د اجتماعی چارو او کارلټولو وزارت



# هالنډ ته نوی راغلی یاست

**دا معلوماتی پاڼه د لاندنیو کسانو لپاره ده:**
د پناه مستحقین، هغه کسانو چې نوې کورنۍ جوړوی او هغه کسانو چې د خپلې کورنۍ سره یوځای کیږی.

**پدې معلوماتی پاڼې کې به تاسو ولونئ چې تاسو وروسته د خپل د راتګ څخه په هالنډ کې کومې چارې باید تنظیم کړئ**
د بېلګې په توګه تاسې باید ښاروالۍ ته ورشۍ. زمونږ مطلب د هغه ښار د ښاروالۍ څخه ده چې تاسو هلته ژوند کوئ.

**د کار په هکله به هم ولونئ**
د قوانینو په هکله او ددې په هکله چې که چیری څه شی سم نه وی تاسو څه وکړئ.

**تاسو به دا هم ولونئ چې مونږ په هالنډ کې څه عادت لرو**
دا چې مونږ د یو بل سره څنګه سلوک کوو.

**تاسو کولای شئ چې د انټرنټ له طریقه هم وګورئ**
په انټرنټ کې اکثراً اضافی معلومات لیکل شوی دی. پدې متن کې لیکل شوی چې په کومو انټرنټ پاڼو کې دا معلومات لاسته راوړی شئ. کله نا کله دا انټرنټ پاڼې ستاسو په ژبه لیکل شوی دی، خو هر کله داسی نده. اکثراً دا انټرنټ پاڼې په انګریزی ژبه لیکل شوی دی.

# کومې چارې باید تاسو تنظیم کړئ؟

## تاسو باید ښاروالۍ ته ورشئ

### کله چې تاسو هالنډ ته راغلئ ښاروالۍ ته مراجعه وکړئ

تاسو باید د پنځو ورځو په منځ کې ښاروالۍ ته ورشئ. تاسو ښاروالۍ ته ووایئ چې تاسو غواړئ چې په هالنډ کې ژوند وکړئ. په ښاروالۍ کې ستاسو نوم په کمپیوتر کې لیکل کېږي. مونږ دې عمل ته نوم لیکنه وایو. کله چې ستاسو نوم ولیکل شو، بیا تاسو په هغه ښاروالۍ کې تاسو ته حقوق او مکلفیتونه در سپارل کېږي.

### ستاسو کورنۍ هم تاسو سره ځي

ستاسو د کورنۍ ټول غړي چې غواړي په هالنډ کې ژوند وکړي، باید تاسو سره ښاروالۍ ته لاړ شي. یعنې ستاسو خاوند/ مېرمنه او ستاسو ماشومان.

### خپل اسناد له ځان سره ویسئ

- د ټولو پاسپورتونه یا د هویت کارتونه. دا اسناد باید د اعتبار وړ وي.
- خپل د کور قرارداد په هالنډ کې: د کرایې قرارداد یا شخصي کور د رانیولو قرارداد (قباله).
- آیا تاسو د کوم بل کس په کور کې ژوند کوئ؟
  - دا کس باید یو لیک ولیکي چې تاسې ژوند ورسره کوئ.
  - دا کس باید هغه لیک لاسلیک کړي.
  - تاسو باید ددې کس د پاسپورت کاپي له ځان سره ویسی.

### تاسو ته د ښاروالۍ لخوا یوه شمېره درکول کېږي

مونږ دې شمېرې ته د وګړو د خدماتو شمېره (*BSN*) وایو. تاسو دې شمېرې ته اکثراً ضرورت لرئ. د بېلګې په توګه کله چې کار کوئ یا روغتون ته ځئ.

### تاسو ښاروالۍ ته خبر ورکوئ چې کډه کوئ

که چیرې تاسو یو بل هېواد ته کډه کوئ بیا ښاروالۍ ته خبر ورکړئ. که چیرې تاسو یو بل ښار ته کډه کوئ بیا هم خپلې ښاروالۍ ته خبر ورکړئ او د خپل نوم په هغه نوي ښاروالۍ کې ولیکئ.

## د ټولنې سره مطابقت

### په ټولنې کې د هالنډ په هکله زده کړه

تاسو هالنډي ژبه زده کړئ. تاسو د هالنډ په هکله زده کړه وکړئ. د بېلګې په توګه پدې هکله چې مونږ څنګه د یوبل سره سلوک کوو. پدې توګه تاسو کولای شئ چې ژر په ټولنې کې برخه واخلئ. دې انټرنټ پاڼه وګورئ: www.inburgeren.nl یا 00 96 599-050 ته زنګ ووهئ.

### تاسو باید په ۳ کلونو کې د ټولنې سره مطابقت وکړئ

تاسو باید ډیپلوم لاسته راوړئ. ددې کار لپاره تاسو ۳ کاله وخت لرئ. ستاسو وخت د هغې ورځې څخه حساب کېږي چې تاسو ته د اوسیدو اجازه درکړل شوې ده. که چیرې ستاسو لیک او لوست زده نه وي، بیا تاسو ته ۵ کاله وخت درکول کیږي. تاسو ته د DUO لخوا یو لیک تر لاسه کړئ. DUO هغه اداره ده چې په هالنډ کې د مطابقت د چارو د تنظیم کولو دنده په غاړه لري.

***د پام وړ!***

آیا تاسو په هالنډ کې د مطابقت د پروګرام د نه تعقیب کولو لپاره ښه دلیل لرئ؟ آیا ستاسو هالنډي ژبه زده ده؟ تاسو کولای شئ چې www.Blikopwerk.nl/inburgeren انټرنټ پاڼې ته وګورئ. پدې انټرنټ پاڼې کې لیکل شوي دي چې تاسو څه باید وکړئ.





### تاسي د هالنډي ژبې په امتحان کی د بریالیتوب په موخه خپله یو کورس ټاکی

تاسی کولای شی هالنډی ژبه خپله زده کړی. د یوه کتاب او یا یوی سی ډی او یا د.ف.دی په مرسته. د بیلګی په توګه: تاسی www.oefen.nl انتخابوی. دا وړیا دی.
آیا تاسی غواړی یو کورس انتخاب کړی؟ نو www.blikopwerk.nl/inburgeren وګوری. داسی یو کورس چه ستاسو وړ وی انتخاب کړی کوم چه د تحصیل او یا ستاسو د شغل سره برابر وی.
د بېلګې په توګه تاسو باید www.oefenen.nl انتخاب کړئ. دا په وړیا ډول (مفت) دی.

### تاسو کولای شئ د کورس لپاره پور واخلئ

تاسو کولای شی چې د DUO څخه پور واخلئ. د کورس پیسې او د امتحان لګښت د DUO لخوا ورکول کیږی. تاسو کولای شئ چې د نورو کورسونه لکه د لوستل او لیکل (*د سواد د زدکړې*) د کورس د لګښت پیسې هم پور واخلئ.

که چیری تاسو د پناه مستحق ووسئ او ټاکل شوی موده کې د مطابقت پروګرام مو پای ته رسولی وی، بیا ضرور نه ده چې پیسې ورکړئ. که چیری تاسو وروسته له ټاکل شوی مودې څخه د مطابقت پروګرام پای ته رسولی نه وی، بیا پور بېرته ورکوئ او ددې پیسې سود به هم ورکوئ.

هغه کسان چې نوې کورنۍ یې جوړه کړی ده یا د خپلې کورنۍ سره یو ځای شوی دی، کولای شی چې په ځینو حالاتو کې پور واخلی. او دا پیسې او سود به تاسو بېرته ورکوئ.

*تاسو کولای شئ چې دا پور د انټرنټ له طریقه څخه تقاضا کړئ*

د www.inburgeren.nl انټرنټ پاڼې ته ورشئ. او 'زما په مطابقت' باندی کلیک وکړئ. تاسو کولای شی چې خپل د DigiD په مرسته دا انټرنیټی پانه خلاصه کړی. پدې معلوماتی پاڼې کې وروسته د DigiD په هکله معلومات درکول کیږی.

# په هالنډ کې د ژوند په هکله په څه شی باندی باید وپوهیږئ؟

## وښایئ چې تاسو څوک یاستئ

### خپل اسناد هر کله له ځان سره ولرئ

پاسپورت، د موټروانی لیسنس او د هویت کارت. اسناد باید د اعتبار وړ وی.

***د پام وړ!***

خپل اسناد بل چاته مه ورکوئ. خپل امر ته هم مه ورکوئ (خپل د کار مالک یا د کار لټولو دفتر).

### ستاسو کود د دولت که پاره: DigiD

که چیری تاسی غواړئ چې د دولتي انټرنټ پاڼې له طریقه خپل یو کار سر ته ورسوئ، بیا یو کود یا رمز ته اړتیا لرئ. دې کود یا رمز ته مونږ *DigiD* وایو. دې انټرنټ پاڼې ته وګورۍ www.digid.nl تاسو د وګړو د خدماتو شمېره (BSN) اړتیا لرئ ترڅو د DigiD تقاضا وکړئ.

## کور کرایه کول یا په پیسو اخیستل

### تاسی کولای شئ چې په بیلا بیلو طریقو سره کور کرایه کړئ

په هالند کې دوه ډوله د کور کرایه ورکونکی موجود دی:

- یو کس یا یو شرکت: *شخصی کرایه ورکونکی*.
- یو اورګان چې کورونه په کرایه ورکوی: د *کرایی کورونو شرکت*.

اکثراً د کورونو د کوپراتیف څخه د کور کرایه کول ارزان دی.



### تاسو کولای شئ چې بیلابیل ډول کورونه کرایه کړئ

هغه کورونه چې د هغې د کرایه اندازه د 699,48 ایرو څخه لوړ دی (خصوصي یا آزاد سکتور کې کرایي کورونه) یا هغه کورونه چې کرایه یې د 699,48 ایرو څخه ټیټه ده (ټولنیز کرایي کورونه). د ټولنیزو کرایي کورونو لپاره قوانین موجود دي:

- ستاسو عمر ۱۸ کاله یا لوړ دی.
- ښاروالی پدې پوهیږي چې تاسی دلته ژوند کوئ.
- ستاسو د اوسیدلو اجازه اعتبار لری.
- که چیرې تاسوحد اکثر 34678 ایرو په کال کې پرته له هغې څخه مالیه ورکړې عاید ولرئ.

### تاسی کولای شئ چې کور په پیسو واخلئ

تاسو کولای شئ چې ددې خبرې لپاره د کورونو د اخیستلو او خرڅولو دفتر ته ورشئ.

### کله نا کله دا هم ممکن نه ده چې د دولت لخوا ستاسو سره د کرایې په برخې کې مرسته وشی: د کرایې لپاره مرسته

آیا د کور کرایه ستاسو لپاره لوړه ده؟ دا پدې اړه لری چې ستاسو عاید څومره ده. څکه چې تاسو کولای شئ چې د کور د کرایې لپاره د مرستې درخواست وکړئ. تاسو یواځې د ټولنیزو کرایي کورونو لپاره کولای شئ مرسته لاسته راوړئ. دي انټرنېټ پاڼې ته وګورئ: www.toeslagen.nl یا www.huurcommissie.nl ته وګورئ. پدې پاڼو کې تاسو کولای شئ چې د کور د کرایې د لوړ والی په هکله معلومات لاسته راوړئ.

## هر ښاروالی د خپل مالیاتی قوانین او مقررات لری

که چیرې تاسو غواړئ چې د خپلې ښاروالۍ د موټرو د پارک کولو یا د کثافاتو د ټولولو په هکله معلومات لاسته راوړئ بیا کولای شئ چې ښاروالۍ ته زنګ ووهئ او یا مراجعه وکړئ یا د انټرنېټ پاڼه وګورئ.

### تاسو ښاروالۍ ته پیسې ورکوئ

د بېلګې په توګه د فاضله موادو، اوبو او د کور د کثافاتو د انتقال لپاره. که چیرې تاسو غواړې چې پوه شئ چې څو روپۍ ورکوئ بیا ښاروالۍ ته زنګ ووهئ او یا مراجعه وکړئ یا د انټرنېټ پاڼه وګورئ.

### تاسو د کثافاتو په برخې کې مقررات مراعات کړئ

هره ښاروالۍ د کثافاتو لپاره خپل مقررات لری. د بېلګې په توګه: پوستکی باید په بېل ستل کې واچول شی. که چیرې تاسو غواړې چې پوه شئ چې کوم مقررات دی بیا ښاروالۍ ته زنګ ووهئ او یا مراجعه وکړئ یا د انټرنېټ پاڼه وګورئ.

## په هالنډ کې کار کول

### تاسو د کار لپاره د وګړو د خدماتو شمېرې (BSN) ته اړتیا لرئ

تاسو د د وګړو د خدماتو شمېره (BSN) د ښاروالۍ څخه لاسته راوړئ شئ. دا انټرنېټ پاڼې وګورئ: www.burgerservicenummer.nl یا www.belastingdienst.nl

### څېنې وختونه کیدای شي چې ستاسو سره د کار په موندلو کې مرسته وشی

تاسو د کار لټوني مرکز ته څئ. که چیرې تاسو غواړئ چې پوه شئ چې د کار لټوني مرکز چېرته ده بیا www.uwv.nl انټرنېټ پاڼه و ګورئ. تاسی کولای شئ چې د کار لټولو دفتر ته هم مراجعه وکړئ.

### تاسو باید خپل اسناد له خانه سره ویسئ

کله چې تاسو خپل کار پیل کوئ بیا ستاسو د کار ملک ستاسو اسنادو ته اړتیا لری. مطلب له پاسپورت او د هویت د کارت څخه دی. ستاسو د کار ملک دا اسناد کاپی کوی.

### ستاسو د کارمالک تاسو ته معاش درکوی

تاسو باید د خپل معاش مالیه ورکړئ. ستاسو د مالې یو برخه ستاسو د کار ملک لخوا ورکول کېږی. تاسو ته ستاسو د کار مالک لخوا یوه ورقه درکول کېږی چې په هغې کې ستاسو معاش لیکل شوی دی. پدې ورقې کې تاسو کولای شئ وکورئ چې ستاسو د کارمالک ستاسو لپاره یې څومره مالیه ورکړې ده. د ورقې ته د معاش ورقه وایو. ستاسو کارفرما د مالیاتو سره معاش درکوی تاسو ته چې معاش لاسته راځی د هغې مالیه ورکړل شوی ده.

### تاسو د هغو پیسو مالیه ورکوئ چې تاسوېې ګټئ

تاسو د مالې دفتر ته وایاست چې څمره پیسې ګټلی دی. دلته مطلب د هغه پیسو څخه دی چې تاسو تېر کال ګټلی دی. دا تاسو هر کال د اپریل د لمړی نیټی نه مخکې سرته رسوئ. مونږ دې ته د مالیاتو لپاره اطلاع ورکول وایو. څېنې وختونه لازم دی چې ډېرې پیسې ورکړئ. څېنې وختونه تاسو ته پیسې بیرته درکول کېږی. www.belastingdienst.nl انټرنېټ پاڼه و ګورئ یا 0800-0543 ته زنګ ووهئ.

### ستاسو آمر باید مقررات مراعات کړی

د ډیرو شرکتونو لپاره قوانین دی. cao: مونږ دې ته cao: (د کار ګډ تړون) وایو. په cao کې لیکل شوی ستاسو معاش او د رخصتۍ پیسې څومره دی. که چیرې ستاسو د کار شرکت cao ونلری بیا د مقررات په قانون کې لیکل شوی. په قانون کې لیکل شوی دی چې تاسو ته حد اقل څومره معاش درکړل شی. دې اندازې ته حد اقل قانونی معاش وایې و دا هم ذکر شوی دی چې ستاسو د رخصتۍ حد اقل پیسې څمره دی. د www.rijksoverheid.nl/minimumloon انټرنېټ پاڼه و ګورئ یا www.inspectieszw.nl.

### که چیرې ستاسو آمر مقررات مراعات نکړی تاسی کولای شئ چې اطلاع ورکړئ

تاسو د خپل آمر سره قرارداد لرئ:

- که چیرې تاسو ته د حد اقل اندازې څخه لږ معاش درکړل شی، بیا تاسی کولای شئ چې د SZW هیئت ته خبر ورکړئ. د www.inspectieszw.nl انټرنېټ پاڼه و ګورئ یا 0800-5151 ته زنګ ووهئ.
- که چیرې تاسو ته د cao د اندازې څخه لږ معاش درکړل شی او تاسو د صنفی د اتحادیې غړی یاست، بیا کولای شی چې اتحادیې ته اطلاع ورکړئ چې تاسو ته د cao د اندازې څخه لږ معاش درکړل کېږی. د صنفی اتحادیې په هکله په دې معلوماتی پاڼې کې وروسته معلومات لیکل شوی دی.

تاسو د کار لټونې د دفتر لخوا استخدام شوی یاستئ:

- که چیرې تاسو ته د cao د اندازې څخه لږ معاش درکړل شی، تاسی کولای شئ چې SNCU (د استخدام شوی کارکونکو د کار د قوانینو مراعات کولو ټولنه) ته اطلاع ورکړئ. www.sncu.nl انټرنېټ پاڼه و ګورئ یا 0180-642530 زنګ ووهئ.



## تاسو اجازه نلرئ چې ډېر زيات کار وکړئ

- تاسی اجازه نلرئ چې د ۴۸ ساعتونو څخه په هفتې کې زيات کار وکړئ. کله نا کله لږ ډېر اجازه لرئ.
- تاسی اجازه نلرئ چې د ۱۰ ساعتونو څخه په ورځ کې زيات کار وکړئ. کله نا کله لږ ډېر اجازه لرئ.
- تاسی اجازه نلرئ چې د ۴۰ ساعتونو څخه په شپې کې زيات کار وکړئ.
- تاسی بايد تفريح وکړئ.

که چيری تاسو زيات کار ته مجبوره کېږئ بيا www.inspectieszw.nl انټرنټ پاڼه و ګورئ يا 0800-5151 ته زنګ ووهئ او د SZW ته اطلاع ورکړئ.

## تاسو په يومصوون ځای کې کار کوئ

ستاسو آمر ستاسو د مصؤنيت او روغتيا مسوول دی. که چيری تاسو د خطر نه ډک کار سرته رسوئ، بيا ستاسو آمر بايد يو انتظام ونيسی. د بېلګې په توګه مناسب کالی او محافظوی خولی، بند او بست وکړی او ددې لپاره تاسو ته ضرور نه ده چه پيسی ورکړی. www.inspectieszw.nl انټرنټ پاڼی ته مراجعه وکړئ. که چيری دا کار نه کېږی بيا www.inspectieszw.nl انټرنټ پاڼه و ګورئ يا 0800-5151 ته زنګ ووهئ او د SZW هيئت ته خبر ورکړئ.

***د پام وړ!***

کله نا کله ممکنه ده چې تاسی يو خراب آمر سر مخامخ شئ. داسی امکان لری چې ستاسو آمر تاسی استثمار کړی. مخکی له هغه چې کومه پاڼه لاسليک کړئ ښه فکر وکړئ. که چيری ستاسو ُمر تاسی استثمار کوی بيا د www.inspectieszw.nl انټرنټ پاڼه و ګورئ يا 0800-5151 ته زنګ ووهئ او د SZW هيئت ته اطلاع ورکړئ. که چيری تاسی غواړئ چې ستاسو نوم وا نه اخيستل شی، بيا کولای شئ 0800-7000 شمېرې تهزنګ ووهی او د جرم خبر په نامعلومه توګه ورکړی.

## که چيرې تاسی خپله وظيفه له لاسه ورکړئ کيدای شی تاسو ته پيسې درکړل شی

مونږ دې موضوع ته د بېکاری معاش وايو. دا معاش تاسو ته د لاندی قانون په اساس در کول کېږی:

- که چيری تاسو په تېرو ۳۶ هفتو کې لږ تر لږه ۲۶ هفتې کار کړی وی.
- که چيری تاسو بل کار لټوئ.

www.uwv.nl انټرنټ پاڼه و ګورئ.

## که چيری تاسی ناروغه شئ، کيدای شی چې پيسې درکړل شی

که چيری تاسی د کار قرار داد ولرئ او ناروغ شئ بيا ستاسو کارفرما لږ ترلږه ۷۰ فيصده ستاسو معاش درکوی. معمولاً په لمړيو دوو ورځو کې معاش نه درکول کېږی. که چيرې تاسو د کار قرارداد ونه لرئ، بيا هم تاسو ته معاش درکول کېږی. دا چې اندازه يې څمره ده، هغه د قانون په کتاب کې ذکر شوی دی. دلته مطلبه د ناروغۍ قانون دی. www.uwv.nl انټرنټ پاڼه وګورئ.

## که چيری تاسو د اوږدې مودې لپاره ناروغ شئ کيدای شی چې تاسو ته پيسې درکړل شی

کچيرې تاسو د دوو کالو څخه زيات ناروغ شئ بيا د UWV لخوا ليدل کېږی چې آيا تاسو د معاش مستحق ياستئ او که نه. دلته مطلب د WIA قانون دی. www.uwv.nl انټرنټ پاڼه و ګورئ.

## تاسو کولای شئ چې يو شرکت جوړ (پيل) کړئ

د معلومات لپاره د تجارت خونو (اتاقونو) ته ورشئ. www.kamervankoophandel.nl انټرنټ پاڼه و ګورئ.

## تاسو کولای شی چې د صنفی د اتحاديې غړی توب لاسته راوړې

د کارګرانو اتحاديه ستاسو سره مرسته کوی. د بېلګې په توګه که چيرې تاسی او ستاسو د کارمالک يو د بل سره اختلاف ولری او که چيری ستاسو د کار په هکله نوی ړمنې وشی. د صنفی اتحاديه همدا شان تاسو سره د ماليې او ستونزو په برخې کې مرسته کوی. د صنفی د اتحاديې بيلګی (www.fnv.nl) FNV او CNV (www.cnv.nl) دی.

# تاسې بايد د روغتيا بيمه ولرئ

## تاسو بايد د خپل د روغتيايی د بيمې چارې تنظيم کړئ

تاسو د خپل او د خپلې کورنۍ د بيمې چارې تنظيم کړئ. بيمه ستاسو د روغتيايی چارو د لګښت يوه برخه درکوی. د بېلګې په توګه د کورنی ډاکټر، دارو او د روغتون لګښت درکوی. تاسو بايد د بيمې د شرکت سره ځان بيمه کړئ. د بيمې ټول شرکتونه يو ډول بيمه لری. دې ته ابتدائی بيمه وايی. دبيمې قيمت په بيلابيلو شرکتونو کې د يو بل سره توپير لری. ماشومان تر ۱۸ کلنی پوری په وړيا ډول بيمه دی.



### تاسو کولای شئ چې خپل ځان اضافي بیمه کړئ

پدې حالت کې بیا اضافي پیسې ورکوئ. کله داسې هم ممکنه ده چې ستاسو د کار مالک د بیمې د شرکت سره قرارداد ولري. پداسې حالاتو کې بیا بیمه لږ ارزانه وي. د حقوقو او مکلفیتونه د معلومات د لاسته راوړلو په هکله د zorgverzekeringslijn.nl انټرنټ پاڼه وګورئ:



### تاسو ته یو کارت درکول کیږي

تاسو دا کارت د روغتیایي مرستو د لاسته راوړلو په مهال کی ښکاره کوئ. که چیرې تاسو ته تر اوسه کارت نه وي درکړل شوی او لازمه وی چې تاسو ډاکټر ته ولاړ شئ، بیا کولای شئ چې د خپلې بیمې ورقې له ځان سره ویسئ. دې انټرنټ پاڼې ته وګورئ:
www.government.nl/issues/health-issues/health-insurance

### کیدای شی چې د روغتیا د بیمې لپاره تاسو ته پیسې درکړل شی

دلته مطلب د بیمې د لګښت د ورکولوځخه ده. دا پدې پورې اړه لری چې د ستاسو د کورنۍ میاشتنی عاید څمره ده. دی پیسو ته مونږ د روغتیا د بیمې لپاره د مرستې پیسې وایو. دې انټرنټ پاڼې ته وګورئ: www.toeslagen.nl.

## تاسو باید ځانته کورنی ډاکتر ولټوئ کړئ

### تاسو باید هرکله خپل کورنی ډاکتر ته ورشئ

په خپلې سیمې یو کورنی ډاکتر ته ورشئ او ورځخه پوښتنه وکړئ چې آیا هغه ستاسو کورنی ډاکتر کیږی او که نه؟ ځینې وختونه کورنی ډاکتران نور ناروغان نه منی. د جدی او عاجلو ستونزو لپاره روغتیایی مرستې د شپې لخوا او دهفتې په پای کې هم ممکن دی. ددې موضوع لپاره خپل کورنی ډاکتر ته تلیفون وکړئ. هغه به د هغه ډاکتر شمېره تاسو ته درکړی کوم چې د ستاسو د کورنی ډاکتر په ځای کار کوی.



## روغتون او نور روغتیایی مرستې

### په عاجلو حالاتو کې 112 ته زنګ ووهئ

که چیرې تاسو په یو خطرناک حالت کې یاست بیا کولای شی چې 112 له طریقه اطفائې، پولیس یا امبولانس ته زنګ ووهئ.

### تاسو سره هر کله روغتیای مرسته کیږی

که چیرې تاسو روغتیای ستونزه ولرئ بیا لمړی باید خپل کورنی ډاکټر ته ورشئ. ستاسو کورنی ډاکتر تاسی معاینه کوی. مونږ دې ته د لمړنی پړاو مرستی وایو. نورې بیلګې: د غاښو ډاکټر، ټولنیز مرسته کونکی او فیزیوتراپي ورکونکی دی. که چیرې تاسو غواړئ چې د روغتون د یو ډاکتر ته ورسی نو بیا د لمړنی پړاو د مرستی باید موافقه ولری. مونږ دې خبرې ته معرفی کول وایو. که چیرې تاسو معرفی شوی نه یاست بیا تاسی خپله ټول مصرف ورکوئ.
که چېرې تاسوته د کومې پېښې له کبله ډیر سخت ځانی تاوان اوښتی وی او یا یو ناڅاپه ناروغ شوی ووسئ بیا هر کله کولای شئ چې د روغتون عاجلې څانګې ته مراجعه وکړئ. د خپل د بیمې او د هویت کارت له ځان سره ویسئ.
که چیرې تاسو کومه بله ستونزه ولرئ بیا لمړی باید ټولنیز مرسته کونکی ته ورشئ. د بیلګې په توګه هغوی ستاسو سره د زدکړې او د ژوند په چارو کې مرسته کوی. که چیرې پدې برخې کې اضافی معلومات غواړئ بیا د ښاروالۍ ځخه پوښتنه وکړئ.

### تاسو په کال کې 360 ایرو ورکوئ

ستاسو د بیمې د شرکت لخوا ټول مصرف نه ورکول کیږی. تاسو خپله 360 ایرو ورکوئ. مونږ دې شخصی ریسک یا خطر وایو. کورنی ډاکتر ته د ورتللو لپاره د خپل شخصی ریسک څخه ورکوئ. کچیرې تاسو د داسې یوې ستونزې لپاره چې هغه د کورنی ډاکتر لخوا حل کیږی روغتون ته مراجعه وکړئ بیا د درملنې مصرف تاسو خپله ورکوئ.

## د ماشومان درلودل او روزنه

### د ماشو د پیدایښت اطلاع باید ښاروالۍ ته ورکړل شی

تاسو هغه ښاروالۍ ته ورځئ چیرته چې ستاسو ماشوم زیږیدلی دی. تاسو د درې ورځو په منځ کې ښاروالۍ ته مراجعه وکړئ. لازم نده چې تاسو خپل ماشوم له ځان سره ښاروالۍ ته بوځئ. خپل اسناد لکه پاسپورټ یا د هویت سند له ځان سره ویسئ. ستاسو ماشوم ته د وګړو د خدماتو شمېره (BSN) ورکول کیږی.

د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته تاسو کولای شئ چې د خپل د ماشوم د زیږیدلو په هکله د انټرنټ له طریقه خبر ورکړئ.
د ښاروالۍ انټرنټ پاڼې ته مراجعه وکړئ.

## کله چې ستاسو ماشوم پیدا شو تاسو سره مرسته کېږي

کچیرې ستاسو ماشوم د ۴ کالو نه کشر وی بیا د سیمیزې نرسې لخوا تاسو ته لیک لېږل کېږي. دا نرسه د مور او ماشوم حمایوی دفتر کې کارکوی. دلته ستاسو د ماشوم روغتیایی چارې څېړل کېږی او لیدل کېږی چې ستاسو د ماشوم وزن او زده کړه څنګه ده. پدې دفتر کې ستاسو ټولو پوښتنو ته ځواب ورکول کېږی.

## همداشان ستاسو سره د روزنې په چارو کې هم مرسته کېږي

په ډېرو ښاروالیو کې د کورنۍ او ماشوم (CJG) په نوم دفتر موجود دی. هغوی کولای شی چې ستاسو ټولې پوښتنو ته د روزنې په هکله ځواب درکړی. دې انټرنټ پاڼې ته وګورئ www.cjg.nl.

## ستاسو ماشوم د ناروغیو په وړاندی واکسن کېږي

دلته هدف دهغه ماشومانو څخه دی چې عمرونه یې د ۱۲ کالو څخه ټیټ وی. واکسینونه د خطرناکه ناروغیو لپاره دی. د بېلګې په توګه دفترۍ، توره ټوخې، د ماشومانو فلج او تیتانوس. واکسینونه په وړیا ډول دی.

## د واکسنونو په هکله تاسو ته لیک درلېږل کېږي

ستاسو ماشوم د ماشوم او مور په حمایوی دفتر کې یا GGD (د ښاروالۍ په روغتیایی اداري) کې واکسن کېږی. که چیرې تاسو پدې هکله اضافي معلومات ته اړتیا ولرئ بیا کولای شئ چې د ښاروالۍ څخه پوښتنه وکړئ یا لاندنۍ انټرنټ پاڼې وګورئ: /http://www.rivm.nl Onderwerpen/Onderwerpen/R/Rijksvaccinatieprogramma/ National_Immunisation_Programme.

## ستاسو ماشومان باید مکتب ته لاړ شی

ستاسو ماشومان باید د ۴ کلنۍ څخه تر ۱۸ کلنۍ پورې مکتب ته لاړ شی. دا ډېره مهمه ده چې ستاسو ماشومان ډیپلوم واخلی. دا انټرنټ پاڼې وګورئ: www.rijksoverheid.nl/onderwerpen/leerplicht.

که چیرې تاسو کار کوئ بیا کیدای شی چې یو څوک یا یوه اداره ستاسو ماشوم وساتی

- د ۰ - ۴ کاله: ورکتون
- د ۲- ۴ کاله: د ماشومانو د لوبې ځای
- د ۴ - ۱۲ کاله: د مکتب د وخت څخه وروسته ورکتون
- د صفر نه تر ۱۲ کلنۍ پورې د ماشومانو شخصی ورکتون.

د ساتنې لپاره باید پیسې ورکړل شی.

ستاسو د ماشوم هالندی ژبې ته اضافی پاملرنه کېږی
دا په ورکتون یا د ماشومانو د لوبو په ځای کې سر ته رسیږی. که چیرې پدې هکله پوښتنې لرئ بیا د ښاروالۍ سره اړیکې ونیسئ.

## کیدای شی چې د ماشوم د ساتنې لپاره تاسو ته پیسې بېرته درکړل شی

مونږ دې پیسو ته د ماشوم د ورکتون پیسې وایو. دا انټرنټ پاڼې وګورئ: www.toeslagen.nl یا www.rijksoverheid.nl/onderwerpen/kinderopvang

# د حقوقو او مکلفیتونو په هکله باید په لاندنی معلومات باندی پوه شئ

*په هالند کې نړی وال بشری حقوق مراعات کیږي.*

- هر څوک کولای شی چې تصمیم ونیسی چې څه وکړی (خپل واکی) د قانون په چوکاټ کې.
- ستم کول منع دی.
- تاوتریخ والی منع ده.

## مونږ د نارینه او ښځو سره په یوه شان چلند کوو

په هالنډ کې ښځې او نارینه یو ډول حقوق او مکلفیتونه لری. د ښځو او نارینه معاش د یو ډول کار لپاره یو ډول دی.

## تاسو خپله حق لرئ چې و ټاکئ چې د چا سره واده کوئ

څوک په واد مجبور کول منع ده. که چیرې څوک تاسو واده کولو ته مجبور کړی، بیا هغه کس بندی کېږی. که چېرې تاسو دې ته مجبور کېږی چې د چاسره واده وکړئ بیا کولای شئ چې نه وواییٔ. که چیرې ستاسو سره جبری واده شوی وی بیا کولای شئ چې د مرستې تقاضا وکړئ.

- که چیرې په یو خطرناک حالت کې ووسئ بیا 112 ته زنګ ووهئ.
- د کورنۍ تاوتریخوالی د مرستې دفتر: 126 0900-126.
- د ماشومانو لپاره د مرستې شمېره: 0800-0432.

یا www.kindertelefoon.nl, www.alsniemandietsweet.nl,
www.hallokezban.nl, www.chatmetfier.nl انټرنټ پاڼې و ګورئ.

## تاسو کولای شی چې نارینه یا ښځینه همجنس باز ووسئ

په هالنډ کې ټول خلک مساوی حقوق لری. دا پدې معنی ده چې هیڅ فرق نکوی چې تاسو نارینه یا ښځینه همجنس باز یاستئ. که چیرې نور خلک ستاسو په هکله بل ډول فکر ولری او تاسو ونشئ کولای چې د چاسره د هغه په هکله خبرې وکړئ بیا کولای شئ چې د مرستې تقاضا وکړئ:

- فایلخ هافن امستردام www.veiligehavenamsterdam.nl/content.php.
- فایلخ هافن هوسټ www.veiligehavenoost.nl.

## څوک حق نلری چې ستاسو په وړاندی تبعیض وکړی

هیڅ څوک حق نلری چې تاسو سره د نورو په پرتله بل ډول چلند وکړی ددې لپاره چې تاسو د یو بل هیواد څخه یاستئ یا ستاسو د پوستکی رنګ بل شانته دی. مونږ دې توپیریز چلند ته تبعیض وایو. که چیرې ستاسو سره تبعیضی چلند کیږی بیا کولای شی چې لاندنی مراجعو ته اطلاع ورکړئ:

- د تبعیض ضد دفتر: www.discriminatie.nl انټرنټ پاڼې و ګورئ.
- /www.rijksoverheid.nl/onderwerpen/discriminatie aangifte-doen-van-discriminatie انټرنټ پاڼې و ګورئ.

## د انجنوکو سنت کول منع دی

د انجنوکو سنت کول منع دی. د انجنوکو سنت کول د مجازات وړ عمل دی:

- د انجنوکو سنت کول د ماشومانو شدیده شکنجه دی.
- د انجنوکو سنت کولو په چاروکې مرسته د مجازات وړ عمل دی.
- تاسو کولای شئ چې د سنت کولو اطلاع AMK (د ماشومانو د شکنجې په هکله د اطلاع ورکولو او مشورې دفتر www.amk.nl) یا پولیسو ته ورکړئ. حتی که مجرم په هالنډ کې ونه وسی او انجلۍ په بل هیواد کې سنته شوې وی.

## آیا تاسی سنت شوی یاستئ؟ ددې خبرې لپاره تاسو ته هیڅ کله سزا نه درکول کېږي

تاسو کولای شئ چې مرسته لاسته راوړئ. د بېلګې په توګه د کورنۍ ډاکټر لخوا.

## آیا تاسو دا نشریه په بله ژبه غواړئ؟

www.nieuwinnl.nl یا www.newinthenetherlands.nl انټرنټ پاڼې و ګورئ.



# نور معلومات

دا معلومات پاڼه په ډیری ژباتی پاملرنی سره لیکل شوی ده. د دغی معلومات پاڼی د محتوا د غلطیو او نیمګرتیا وو په وړاندی د ټونیزو چارو او کارلټونی وزرات په هیڅ ډول سره کوم مسؤولیت پرغاړه نه لری. د دغه معلومات پاڼی د محتوا پربنسټ هیڅ ډول حقوقی ادعا نشی کیدای.

د نور معلومات لپاره www.rijksoverheid.nl وګوری


د اجتماعی چارو او کارلټولو وزارت
Postbus 90801
LV Den Haag 2509



مارچ ۲۰۱۴ | ایس ۷۳ - ۶۲۳۲۱۷

عکاسی: www.mieke-ann.nl